Social Sceince
AcademicJournal

لېډ د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د علامه سيدجمال الدين افغان مهمو سفرونو ته کتنه

نوماند پوهنيار اسدالله سمسور*[1]، نقيب الله حمزه[2]او عبدالوارث صمدي[3]

[1,2,3]پښتو ادبياتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، بُست پوهنتون

مسؤل ايميل ادرس: asadullahtt@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ منل سوې:۱۴۰۳/۱۱/۲۴ خپره سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-2-06 مخونه (۱۵۰-۱۳۵)

## لنډيز

که د تاريخ سير ته لنډه کتنه وکړو، افغانستان په خپل غيږ کي داسي تکړه او ټولني ته محبوب کسان روزلي، چي نه يوازي افغانستان؛ بلکي د نړی زياتو هيوادونو ته يې افتخارات او وياړني وربخښلي، چي د هغو له جملي څخه يو هم د شرق نابغه سيد جمال الدين افغان نوم يادولای سو. افغان د نړی زياتو هيوادونو ته سفرونه کړي او ددې سفرونو څخه يې موخه د ملتونو بيدارول او د وخت د استعمار او استبداد په وړاندي درېدل وه. په ډېر افسوس بايد ووايم، چي د افغان سيد په زمانه کي د شرقيانو او په ټوله کي د مسلمانانو واک دداسي کسانو په لاس کي وو، چي د هر اصلاحي، انکشافي، پرمختګ او حرکت څخه يې ډار درلود او د خلکو د ژوند ښه کول يې د خپلو ګټو او ناروا قدرتونو خاتمه ګڼل. سيد جمال الدين افغان د ازادۍ غورځنګ د استعمار، استبداد او خرافاتو پرضد پيل کړ. ددې لپاره چي دده غورځنګ بين المللي سي؛ نو روسيې، هند، ترکيې، ايران، مصر او فرانسې ته يې سفرونه وکړل. ده د نړی د مسلمانانو د راويښيدو لپاره ډېري تاريخي هڅي کړي دي. ده هڅه کول، چي ټوله اسلامي نړی د غربي استعمار څخه خلاصه کړي او ټول هغه خرافات چي د جهالت او ناپوهی له امله په مسلمانانو کي شتون لري، له منځه يوسي. له همدې کبله ده تل د سفر موزې په پښو وي او هيوادونو ته يې سفرونه کول، چي د اسيا، اروپا او افريقا لويې وچې يې څو واره تر پښو وکښلې.

**کليدي کلمې:** د افغان پېژندنه، سفرونه، مړينه.

## سريزه

د افغاني ټولني د وروسته پاته کېدو د علتونو له جملي څخه يو داګڼلای سو، چي د خپلو ملي او نړيوالو شخصيتونو اړوند پوره آګاهي نه لرو. زياتره د علم او پوهي خاوندان خپل د هيواد افغانستان رښتني خدمتګاران نه پيژني، که يې وپيژني باوري يم چي خپلو نسلونو ته به د هغوی د وياړ او افتخار ډکي کارنامې د ميراث په توګه پرېږدي.

د همدې موخې پر بنسټ ما اړینه وبلل، چې د خپل هیواد وياړلی، د شرق نابغه او سیاسي فیلسوف سید جمال الدین افغان د نړۍ بیلابیلو هیوادونو ته د هغه دسفرونو په اړوند مقاله ولیکم، چې الحمدالله دادی په دې اراده کې د بریا کچې ته نیژدې کیږم.

سید جمال الدین افغان د سید صفدر زوی، په ۱۲۵۴ ه ق کال د شعبان په میاشت کې، چې د ۱۸۳۸م کال سره سمون خوري د کنړ ولایت مرکز اسعد اباد په یوه دینداره او دین دوسته کورنۍ کې زیږېدلی دی. د لوړو زده کړو لپاره د ۱۸۵۵ م کال څخه تر ۱۸۵۷م کال پورې، هند، عراق او داسې نورو هیوادونو ته سفرونه کړي دي(نهضف، ۲۰۱۶م)

نوموړي په ادبي فنونو کې صرف ، نحوه ، معاني ، بیان ، انشاء او تاریخ ولوستل په مذهبي علوموکې تفسیر، حدیث، فقه او نجوم لوستل په معقولو علومو کې یې منطق، علمي او نظري حکمت ، تدبیرمنزل، سیاست، د طبیعاتو تهذیب او الهیاتو او په ریاضیکي علومو کې یې په حساب، هندسه، الجبر تر ډېره بریده علم حاصل کړ. پورته ټول علوم یې د ښو او بااستعداده استادانو څخه زده کړل او په اتلس کلنۍ کې یې ټول علوم پای ته ورسول(نړیوال، ۱۳۸۵ل).

افغان د اسلامي نړۍ راویښول پیل کړه او مسلمانان یې د ویښتابه غورځنګ پیلولو ته وهڅول. ددې ترڅنګ افغان مسلمانان د اصلاح لوري ته هم متوجه کړل، چې اصلاحي افکار او هڅې یې هم ګړندۍ کړې. د افغان سید غورځنګ هم فکري وو او هم ټولنیز وو. ده د اسلامي نړۍ درد د دوو شیانو څخه تشخیص کړی و: یو داخلي استبداد او بل بهرنی استعمار، چې د همدې دوو دردونو پر وړاندې یې ټېنګه مبارزه وکړه(طیبي، ۱۳۵۵ل).

بېلابېلو هیوادونو ته د افغان سفرونه ددې لامل سول، چې نوموړي هیوادونه، سیاسي رژیمونه او شخصیتونه د نژدې وګوري او هرڅه د نیژدې وڅاري. همدارنګه هغه څه چې په نوموړو هیوادونو کې روان وي، د هغه په اړه ریښتني معلومات لاسته راوړي. افغان سید د خپلو زیاتو سفرونو او ټولنیزو اړیکو پر بنسټ هغه نړۍ چې ده ژوند پکښې کوی، وپېژندل او د اسلامي نړۍ په هغو دردونو چې ده یې د حل لپاره مبارزه کول، وپوهیدی. له همدې کبله افغان نړۍ په خپلو سترګو ولیدل او رواني نیمګړتیاوې یې د نیژدې ولیدلې.

**د څېړنې ستونزه**

د علامه سید جمال الدین افغان مهمو هیوادونو ته سفرونو د اهدافو نه څرګندتیا.

## د څېړنې موخه

د علامه سید جمال الدین افغان د سفرونو حقیقت او واقعیت پلټنه او د مبهمو معلوماتو څرګندول.

## د څېړنې پوښتنې

د علامه سید جمال الدین افغان د زیاتو سفرونو څخه موخه څه وه؟

افغان ولې اسلامي هیوادونو ته سفرونه کول؟

افغان د سفرونو په جریان کې د کومو ننګونو سره مخ سوی دی؟

## د څېړنې اهمیت

ددې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې د علامه سید جمال الدین افغان د سفرونو او زحمتونو په هکله، چې د اسلامي نړۍ د یووالي لپاره یې تر سره کړي دي؛ یو ځای سي.

## د څېړنې میتود

په دغه څېړنه کې د کتابتوني څېړنیز ډول او تشریحي میتود څخه ګټه اخیستل سوې ده.

## د څېړنې شالید

د علامه سید جمال الدین افغان په هکله خیتځ او لویدیځ تاریخ پوهانو، سیاسینو او لیکوالانو خپل افکار او نظریات لیکلي دي. په پښتو ژبه کې د نوموړي اړوند زیاتي کمي لیکنې د مقالو، رسالو، کتابونو او ژباړو په شکل سوي دي. په ځانګړي ډول، چې ما کوم اثار د ماخذ او منبع په ډول استفاده کړي، په لاندي ډول دي:

1. د شرق نابغه: دا اثر د دوکتور سعید افغاني دی، چې لومړی چاپ په ۱۳۵۵ل کال په کابل کې د بیهقي کتاب خپرولو موسسې له لوري خپور سوو او دوهم چاپ یې په ۱۳۹۴ل کال په مصر کې د افغانستان سفارت فرهنګي ځانګې له لوري نشر سوی دی. په نوموړي اثر کې د سید جمال الدین افغان د پېژندنې څخه پیل بیا تر مړینې پوري خورا ښه مواد شتون لري.
2. سید جمال الدین افغاني ستر شخصیت او سپک تورونه: دا اثر د زاهد جلالي دی، چې لومړی چاپ په ۱۳۹۳ل کال په کابل کې د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز له لوري خپور سوی دی. زاهد جلالي په خپل کتاب کې د ستر شخصیت، سید جمال الدین افغان پېژندنه کړې او د بې ځایه او ناروا تورونو څخه یې د سید جمال الدین افغان لمن پاکه

کړې، زاهد په دې اثر کې د حقیقتونو څرګندولو په خاطر د سید جمال الدین او د ده نږدې شاګردانو خبرې را اخیلې او زموږ د لویدیځې ګاونډې غاړې په رد کې، چې جمال الدین افغان شیعه مذهبه او ایراین الاصل بولي، قانع کوونکې دلایل وړاندې کوي، همدارنګه د سید جمال الدین افغان په هکله د «الحاد» بې بنسټه تور هم په ډېر خاص استدلال سره ردوي.

3. مشاهیر الشرق: دا اثر د جرجي زیدان دی، چې په ۱۹۲۲م کال په مصر کې چاپ سوی دی. په دا اثر کې د سیدجمال الدین افغان د سفرونو اړوند د ګټې اخیستنې معلومات شتون لري.

4. نسب او زادګان سیدجمال الدین الافغاني: نوموړی اثر د استاد عبدالحي حبیبي دی او په ۱۳۵۵ل کال په کابل کې د بیهقي کتاب خپرولو موسسې له لوري خپور سوی دی، چې د سید جمال الدین افغان د پیژندنې او نسب لړۍ بیان سوې ده.

5. د نړۍ سل مشهوره څېرې: دا اثر د مصطفی صفا دی او په ۱۳۹۵ل کال په ننګرهار د مومند کتاب پلورنځي له لوري چاپ سوی دی، چې پکښې د سید جمال الدین افغان پیژندنه، زده کړې، سفرونو او مړینې اړوند توضیحات راغلي دي.

6. افغانستان او انقلاب: ددې اثر لیکوال نظیف الله نهضت دی او په بلجیم کې چاپ سوی دی، چې د سیدجمال الدین افغان د سفرونو او د استعمار ضد فعالیتونو او مبارزې اړوند ښه د کار معلومات راټول سوي دي.

**د سید جمال الدین افغان پیژندنه: علامه سیدجمال الدین افغان** د اسلامي نوښت بنسټګر، یو فعال غړی او د اسلامي ملتپالنې یو مخور پلوی وو. سید جمال الدین افغان په ۱۸۸۵ م کال د پان اسلامیزم غورځنګ په جوړولو برلاسی سو، د سید مبارزې دوه بعدونه یا اړخونه درلودل اسلامیت او افغانیت(صفا، ۱۳۹۵ل).

کنړ د افغانستان په ختیځ کې لیرې پروت ولایت دی؛ یاد قوم یا ټبر د افغانانو په منځ کې ځانګړی مقام درلود. نو په همدې بنسټ یې خلکو خورا درنښت کوئ. تاریخ ته په کتو د سیدانو ټبر د افغانستان په مختلفو سیمو کې جلا – جلا حکومتونه او واکونه درلودل. نو هماغه وو چې د وخت حاکم امیر دوست محمد خان امر وکړو تر څو د خپلې کورنۍ سره کابل ته کډه سي، د نوموړي

سره یې دده نږدې خپلوان هم کابل ته وغوښتل او هلته یې د ژوند کولو حکم ورته وکړ، کابل ته د تګ په وخت سید صفدر سره سید جمال الدین هم ملګری و(صفا، ۱۳۹۵ل).

د نوموړي د نسب لړی د اسلام مشهور محدث امام علي ترمذي ته رسیږي(حبیبي، ۱۳۵۵ل).

او په پای کې یې د نسب لړی حضرت حسین بن علي بن ابوطالب ته رسېږي. د سید کورنی په هغه ټبر پوري تړلې دی، چې په کنړ کې یې ژوند کاوه(خوګیانی، ۱۳۱۸ل).

علامه سیدجمال الدین افغان د ځان په هکله وایي: " شرق او شرقیانو ته مي وکتل، افغانستان لومړی ځای وو، چي زما توجه یې جلبه کړه او دا لومړی ځای دی، چي زما بدن یې پر خاوري لګېدلی، بیا هند وو چي په عقل مي په کي مثقف سو-، بیا ایران د ګاونډیتوب او اړیکو له مخي... " (عماره، ۱۹۸۴م)

**زده کړې:** په اته ۸ کلنی کې یې په زده کړه پیل وکړ، په لس کلنی کې له پلار سره ایران ته ولاړ، چي پلار یې د نوموړي په روزنه کې ډېره ونډه درلوده. لومړنی زده کړې یې خپلې کورنی کې پیل کړې، سید جمال الدین افغان د هغه ځواکمني حافظې پواسطه چي د الله ﷻ لخوا ورته وربخښل سوې وه په ډېرو علومو یې پوهه ترلاسه کړه، چي حتی د کتاب فهرست (لړلیک) د لیدلو څخه به یې د هماغه کتاب په موضوعاتو پوهه ترلاسه کوله(عماره، ۲۰۰۸م).

نوموړي په ادبي فنونو کې صرف ، نحوه ، معاني ، بیان ، انشاء او تاریخ ولوستل په مذهبي علوموکي تفسیر، حدیث، فقه او نجوم لوستل په معقولو علومو کې یې منطق، علمي او نظري حکمت ، تدبیرمنزل ، سیاست، د طبیعاتو تهذیب او الهیاتو او په ریاضیکي علومو کې یې په حساب، هندسه، الجبر تر ډېره بریده علم حاصل کړ. پورته ټول علوم یې د ښو او بااستعداده استادانو څخه زده کړل او په اتلس کلنی کې یې ټول علوم پای ته ورسول، چي وروسته بیا هند ته ولاړ او هلته یې د ورځینو مسایلو او ځینو نورو علومو سره ځان اشنا کړ(نړیوال، ۱۳۸۵ل).

سید جمال الدین افغان د خپل ژوند په لوړو او ژورو کې یو شمیر داسي اثار تالیف کړي، چي د نوموړي د فکر او لیدلوری ښه څرګندنه ترې کیږي. دا چي موضوع پراخه نسي، همدومره بسنه کوي(غبار، ۱۳۲۳ل).

**د سید جمال الدین افغان سفرونه**

په دې وروستیو دوو پیړیو کې د اسلامي فکري اصلاحي غورځنګونو د مخکښانو څخه یو نامتو او ټولمنلی مخکښ افغان سید جمال الدین دی، چې د فکري چینې څخه یې نه یوازې افغاني روحانینو او علماوو اوبه وچښلې؛ بلکې د ټولې اسلامي نړۍ تنده یې ورماته کړه. افغان سید که څه هم د نړۍ په بېوزله اسلامي هیواد (افغانستان) کې وزیږیدی. خو ډېر ژر یې د نړۍ پرمختللي او مخکښ اسلامي او غیري اسلامي هیوادونه د خپل فکري قوت او ذهني تیزوالي په زور باندې خبر کړل. له همدې کبله نړیوالو د افغانستان په غیږ کې دې زیږیدلي بچي ته د (شرق نابغه) لقب ورکړ. افغان د اسلامي نړۍ راویښول پیل کړه او مسلمانان یې د ویښتابه غورځنګ پیلولو ته وهڅول. ددې ترڅنګ افغان مسلمانان د اصلاح لوري ته هم متوجه کړل، چې اصلاحي افکار او هڅې یې هم ګړندۍ کړې. د افغان سید غورځنګ هم فکري وو او هم ټولنیز(طیبي، ۱۳۵۵ل).

نوموړي هڅه کول، چې اصلاحي افکار د مسلمانانو په ذهنیتونو او ټولنیز ژوند دواړو کې خپاره کړي، ترڅو په اسلامي نړۍ کې اصلاحات راسي. دده مبارزه په یو ښار، ولایت او هیواد پورې تړلې نه وه، بلکې ده هڅه کول، چې ټوله اسلامي نړۍ د غربي استعمار څخه خلاصه کړي او ټول هغه خرافات چې د جهالت او ناپوهۍ له امله په مسلمانانو کې شتون لري، له منځه یوسي. له همدې کبله ده تل د سفر موزې په پښو وې او هیوادونو ته یې سفرونه کول، چې د اسیا، اروپا او افریقا لویې وچې یې څو واره تر پښو وکښلې. افغان چې به هر هیواد ته تلی په هغه هیواد کې یې د بېلابېلو ټولنیزو ډلو سره اړیکې نیولې، ترڅو د ټولنې د ټولو پوړونو پر زړونو او افکارو باندې نفوذ پیداکړي، د ځینو څېړنکو په لیکنو کې راغلي دي، چې افغان سید د ځینو اسلامي هیوادونو په فوځونو کې ورګډېدی، چې د فوځیانو او نظامیانو زړونه هم لاسته راوړي(طیبي، ۱۳۵۵ل).

بېلابېلو هیوادونو ته د افغان سفرونه ددې لامل سول، چې نوموړي هیوادونه، سیاسي رژیمونه او شخصیتونه د نژدې وګوري او هرڅه د نیژدې وڅاري. همدارنګه هغه څه چې په نوموړو هیوادونو کې روان وي، د هغه په اړه ریښتني معلومات لاسته راوړي. افغان سید د خپلو زیاتو سفرونو او ټولنیزو اړیکو پر بنسټ هغه نړۍ چې ده ژوند پکښې کوی، وپېژندل او د اسلامي نړۍ په هغو دردونو چې ده یې د حل لپاره مبارزه کول، وپوهیدی. له همدې کبله افغان نړۍ په خپلو سترګو ولیدل او رواني نیمګړتیاوي یې د نیژدې ولیدلې(طیبي، ۱۳۵۵ل).

لکه مخکې چې مو وویل افغان سید د اسلامي نړۍ دردونه د داخلي استبداد او خارجي استعمار له امله تشخیص کړل او ددې دوو ناوړه پدیدو پر وړاندې یې د ژوند تر پایه نه ستړې کیدونکې مبارزه وکړه. ده ددې دوو فلج کونکو لاملونو د له منځه وړلو لپاره د مسلمانانو سیاسي پوهاوی او په سیاسي بهیر کې ددوی ګډون واجب او لازم وګڼی. همدارنګه دده په آند مسلمانان د خپل عظمت او لوړوالي د لاسته راوړلو لپاره باید لومړی اسلام ته ستون سي. هغه خرافات چې د بشریت د ستر لارښود نبي کریم ﷺ د رحلت څخه وروسته په اسلام کې راغلي دي، هغه باید له منځه یوړل سي او مسلمانان باید یوازې د قران او سنتو پیرو وه اوسي، چې د اسلام په ریښتني توګه پلي کول به مسلمانان د عظمت لوړو پوړیو ته ورسوي. د افغان په آند بداعت پالنه او د خرافاتو زیاتوالی ددې لامل سوی چې مسلمانان د زوال او لوېدني سره مخ سي.افغان سید مسلمانانو ته د یوالي سپارښتنه کول او د نفاق هغه ناوړه لاسونه چې د ښکیلاکي ځواکونو لخوا اسلامي نړۍ ته را اوړده سوي وه، د زړه په سترګو لیدلي وه او د هغو د بندیدو لپاره یې مبارزه کول.هر چیرې چې افغان سید تللی ، هلته یې داسې فکري، اصلاحي او علمي انقلاب راوستئ، چې کلونه -کلونه او پیړی - پیړی یې اور نه دی مړ سوی او ډېرې تیږې تیارې یې په خپلو وړانګو روښانه کړې دي. افغان سید هڅه کول چې د بیدو خلکو په نفسونو کې سیاسي شعور پیداکړي او د بشریت په جامدو وګړو کې فکري او اصلاحي غورځنګ رامنځته کړي(طیبي، ۱۳۵۵ل).

**عربستان ته سفر:**

سید جمال الدین افغان په ۱۲۷۳ ه ق کال د حج فرضیې ادا کولو په موخه عربستان ته سفر وکړ، حج د مراسمو ادا کولو په منظور نومړی حجاز ته روان سو او هلته د حج مراسمو ترڅنګ یې د پخوانیو اثارو لیدنه هم ترسره کړه. وروسته بیا مکې مکرمې ته ولاړ او هلته یې د مختلفو قومونو او قبیلو سره ولېدل او ډېر ګټور معلومات یې ترلاسه کړل،کله چې د حج مراسمو څخه اوزګار سو، نو د خپل ټاټوبي په لور یې حرکت وکړ او هیواد ته ستون سو، دلته یې د حکومت په چوکاټ کې دنده پیل کړه او د حکومت په چوکاټ کې په لوړو رتبو یې دندې ترسره کړې، متاسفانه کورنۍ جګړو له وجهې د وخت حاکم لخوا ورته دسیسې او طوطیې جوړې سوې او د هیواد پرېښودو ته اړ سوو(افغاني، ۱۳۵۵ل).

**هند ته سفر:**

علامه سید جمال الدین افغان د خپلو افکارو، نظریاتو او تبلیغ لپاره په ځوانه ځوانۍ د هند په لور روان سو. پدې لار کي په نه ستړي کیدونکي تلاښ یې لاس پوري کړ. د هیڅ ډول کوښښ څخه یې سرفه ونه کړه. علامه سید په ۱۸۵۶ز کال د هند په لور ځي، ترڅو د انګریزي ښکیلاک ځواک پر وړاندي د خپلواکۍ د غورځنګ فکري مشري په غاړه واخلي. د علامه سید لومړی بهرنی سفر د هند په لوري وو او تر هغه ځای پوري چي د سید د ځوانۍ اړیکي وی. نو دې سفر ته یو تجربوي او څېړنیزه سفر ویلای سو، ده غوښتل ترڅو د هند له روان سوي سیاسي او ټولنیزي وضعي څخه ځان خبر کړي. نو په دې اړه یې د هند له پوهانو، مشرانو او سیاسي وتلو څېرو سره لیدني کتني پېل کړې. د هغوی له افکارو څخه یې ځان خبر کړ او د ښوونیز نظام په اړه یې د هغوی کړه وړه له نظره تېر کړه. علامه سید دا تریخ واقعیت هم درک کړ، چي په هند کي واک او چاري د مسلمانانو له لاسو څخه په ټولیز ډول وتلي دي. نو له دې امله د هغه مخالفت او کینه د انګرېزانو په وړاندي له هر چا زیاته وه او د مسلمانانو څخه یې غوښتنه دا وه چي خپلې اړیکي له پرنګیانو سره وشلوي (صدیقي، ۱۳۵۵ل).

کله چي سید د هند پولو ته ورسید د هند حکومت له لوري ورته تود هرکلی وسو. خو هندي چارواکو دې  ته زړه نه ښه کوئ، چي سید دي په دې ښار کي استوګن سي. دا ددې لپاره چي د سید خوا او شاه پوهان او ځوانان را ټول نه سي او پټه کومه دسیسه جوړه نه سي. همدې خبرو په خلکو کي د نوموړي په اړه ډول ډول عکس العملونه را پارول، نابغه د خلکو د دا ډول وضعي په کتلو سره د یوې میاشتي څخه زیات وخت تېر نه کړ، د هند ساحلي سمیو ته ولاړ او د هغه ځایه یې مصر ته د تګ نیت وکړ (زیدان، ۱۹۲۲م).

**مصر ته سفر:**

کله چي سید جمال لدین افغان مصر ته ورسید د خلکو تود هرکلي سره مخ سو، په مصر کي یې د ازهر ټولني او د سوریې یو شمېر زده کوونکو سره ولیدل نوموړو له سید څخه وغوښتل ترڅو دوی ته شرح اظهار تدریس کړي. سید د دوی غوښتني ته مثبت ځواب ووایه او په تدریس یې شروع وکړه او یاد کتاب یې ورته په خپل استوګنځای کي تدریس کړ، چي په دې سره ټول زده کوونکي له سید ډېر خوشحاله سول او سید یې د یو فکري مکتب په توګه وپېژندی. د هغه وخت مطبوعات

او رسنۍ څخه یوازې په مصر کي نه بلکي په ډېرو هیوادونو کي د حکومتونو او د وخت د استعمار ګرو تر اغېزې لاندې وې(افغاني، ۱۳۹۴ل).

دوکتور محمد عماره په خپل کتاب "جمال الدین الافغاني: موقظ الشرق و فیلسوف الاسلام" (جمال الدین افغان: د ختیځ ویښوونکی او د اسلام فیلسوف)کي لیکي: سید خپل پیروان او ځو همکاران وهڅول چي د ده ویناوې او لیکني په ورځپاڼو او مجلو کي په خپلو نومونو خپرې کړي. له دې سره یې یوه داسې ډله ځوانان په خپلو افکارو وروزل، چي په دې برخه کي د مبارزې وړتیا ولري. د همدې هلو ځلو له کبله د وخت په تېرېدو سره په مصر کي د ازادو رسنیو کلتور ته لاره هواره سوه. سید همدارنګه د "نوښت او سمون غورځنګ" په نامه خپل کار پیل کړ او د "مصر" په نامه یوه ورځپاڼه هم له چاپه را ووته. نوموړې په سیاسي ډګر کي هم ډېر ښکاره دریځ درلود(افغاني، ۱۳۹۴ل).

خپلو شاګردانو ته به یې تل د تاریخ په اوږدو کي د حکومتونو جوړښتونه بیانول او ټینګار به یې کاوه، چي واک ته د رسیدو لپاره دې شوراګاني تنظیم سي، چي اوس مهال یې پارلماني ټاکني یوه ښه بېلګه یادولای سو. د حاکمو واک ته رسیدل او یا هم له حاکمو کورنیو سره د واک پاته کیدو پر ضد یې هم مبارزه کول او تل د برابرۍ غوښتونکي وو. د هغه وخت د اړتیا پر اساس یې"د وطن د ازادۍ ګوند" په نامه لومړنی سیاسي ګوند رامنځته کړ، چي ۱۸۷۹م کال کي یې په ښکاره او ازاد ډول فعالیت کاوه.

سید جمال الدین افغان سوله ییز ژوند او د امنیت راتلل د ریښتني علم خپرولو سره تړل او ویل به یې: هغه ریښتینی او صحیح علم چي امکان لري بني ادم ورته ورسیږي هغه دی، چي پر مټ یې د فساد او وینو تویولو مخه ډب کړي"(افغاني، ۱۳۹۴ل).

**ترکیې ته سفر:**

کله چي په مصر کي سید جمال الدین افغان د فکري اختلافاتو او دښمنۍ احساس وکړ. نو تصمیم یې ونیوه، چي مصر پرېږدي او په کال ۱۲۸۷ ه ق کي د ترکیې په لور روان سو. د شرق نابغه اثر کي دوکتور سعید افغاني داسې لیکي: په ترکیې کي د سید جمال الدین افغان د یوځه لږو ورځو تیریدو څخه وروسته وکړای سول، چي د ترکیې د صدراعظم علي پاشا سره ملاقات وکړي، چي د علي پاشا لخوا یې تود هرکلی وسو. په ترکیې کي د سید جمال الدین افغان قوارې، لباس او رویې زیات

شمیر خلک ځان ته جلب کړه. ځکه چي افغان هغه وخت چپن، وطني کالي او غټه بګړۍ يې استعمالول. سید د ترکیې په مرکز کي د خلکو سره بحثونه کول او په دوامداره توګه یې په مسجدونو، مجلسونو کي ویناوي کولې او خلکو باندي دده خبرو، ویناوو زیات اغیز وکړ او د تاثیر اندازه یې ورځ په ورځ ډیرېدل.د ترکیې عامو او خاصو خلکو د نوموړي له پوهي، لیاقت، ذکات، هوښیارتیا او ټولینزو اخلاقو څخه متاثره وه. افغان تر لږ مودې تېرېدو وروسته د ترکیې پوهني وزارت د علمي شورا غړي په توګه ومنل سو (افغاني، ۱۳۵۵ل).

علامه سید جمال الدین افغان د ترکیې د ښووني او رزوني د خپرېدو لپاره ډېر ښه وړاندیزونه درلودل، یادو وړاندیزونو د علمي شورا د ټولو غړو توجو جلب کړه او د جمال الدین افغان د علم او پوهي څخه يې ترجماني وکړل. مګر داخل د شورا کي ځیني غړي د سید له تګلارو سره مخالفت وښود او هغه یې د ترکیې د فرهنګ سره ضد وباله. د دغو افرادو له جملې څخه د شیخ السلام حسین فهیمي افندي نوم یادولای سو. حقیقت دادی چي کینه او حسد د وېري او ضعف څخه پیداکیږي. ځکه چي قوي او شجاع سړی خپل مطلب ته د رسیدو لپاره بغض او بدنیتي نه کوي.مګر ډارند او بې کفایته انسان، چي ښه کار کولای نه سي. نو کوښښ کوي چي د حسد او کینې په اساس جوړ کارونه وران کړي. حسین فهیمي افندي سید جمال الدین افغان په کفر او الحاد متهم کړ او خپلو پیروانو ته به یې ویل: سید جمال الدین په دې عقیده لري، چي نبوت د صنعتونو څخه یو صنعت دی. په دې سره افندي ساده خلک د سید جمال الدین افغان په ضد و پارول، تر څو هجوم پر وروړي. هماغه وو افغان مجبور سو او راغی استانبول ته. خو شیخ هلته هم په ارامه پرې نښود. ان تر دې چي د سید د تبعید امر یې را واخیست. دې سره سید له ترکیې تبعید سو او د مصر لور ته یې د تګ نیت وکړ (افغاني، ۱۳۵۵ل).

**مصر ته دوهم سفر:**

په ۱۲۸۸ه ق کال افغان نابغه مصر ته ورسید. که څه هم نوموړي په مصر کي د پاته کیدو هوډ نه درلود. خو د مصر پاچا مجبور کړ تر څو سید په مصر کي پاته سي او همدارنګه سید ته یې معاش هم وټاکه. نابغه سید په مصر کي زده کوونکو ته په ( فلسفه ، نظري او علمي حکمت ، معقولات ، فلکیات، تصوف، اصول ،فقه او اسلام ) کي تدریس پیل کړ. ډېر تکړه شاګردان یې ورزول؛ د نوموړي پوهي او هوښیارتیا د مصر پاچا توفیق دې ته مجبور کړ، ترڅو سید ځان ته نږدې کړي او

په هره مسله کي ور څخه مشوره واخلي. خو دلته هم ځیني داسي کسان پیدا سول، چي د سید په مخالفت یې لاس پوري کړ. د دوی له جملې یو هم د انګلستان کونسل جنرال فیضان یادولای سو، هغه توفیق ته شکایت وکړ، دي سره د توفیق پاچا نیت سید ته بد سو. نابغه او د هغه ملګری ابو تراب یې د مصر څخه تبعید کړل(افغاني، ۱۳۹۴ل).

**هند ته دوهم سفر:**

سید جمال الدین افغان په ۱۹۷۹م کال هند ته روان سو او د حیدراباد په دکن کي استوګن سو(رازقي، ۱۳۸۸ل)

هلته په حیدر اباد کي تر اوسیدو وروسته یې د الرد علی الدهرین په نامه رساله ولیکله، کله چي مصر کي د عرابیه انقلاب په بریالیتوب پای ته ورسید. نو سید د حیدراباد څخه کلکتې ته راغی د هند حکومت لخوا پاته کیدو ته اړ سو او ورته وویل سول، چي حالات ښه سول او د انقلاب اور په کمېدو سو. نو بیا چي چیرته ځي کولای سې ولاړ سې(جلالي، ۱۳۹۳ل).

**لندن ته سفر:**

سید غوره وګڼله چي لندن ته سفر وکړي لومړنی ښار لندن دی، چي سید پکښې ډېره کمه موده پاته سوی دی، چي د دې سفرڅخه وروسته بیا د پاریس په لور روان سو(صدیقي، ۱۳۵۵ل).

**فرانسي یا پاریس ته سفر:**

پاریس کي د سید سره ځوانان یو ځای سول او نوموړی یې دې ته وهڅوه، ترڅو یوه جریده خپره کړي او دې سره د نړی مسلمانان د نفاق څخه یووالي ته راوبلي. سید دغه کار خپل تکړه شاګرد محمد عبیده ته وسپاره، چي نوموړي په ښه توګه سرته ورسوئ او د عروة الوثقی جریدې بنسټ یې کېښود. یاده جرېده تر ۱۸ مي ګڼي پوري چاپ سوه. دغي جریدې د ختیځ په بېچیانو کي په ځانګړي توګه په مسلمانانو باندي ډېره اغېزه وکړه. وروسته جریده د جدي خار لاندي راغله او په یوه بهانه یې بنده کړه. د انګلستان حکومت له هغه کسانو سره، چي د سید سره اړیکي درلودې، له دوی سره ډېر بد چلند تر سره کړ. سید د جریدې د بندیدو څخه وروسته یوه میاشت په پاریس او یوه میاشت نور په لندن کي پاته سو. له هغه ځایه په ۱۳۰۳ ه ق کال د ایران په لور روان سو(عماره، ۱۹۸۸م).

**ایران ته سفر:**

سید په ۱۳۰۳ ه ق کال د ناصرالدین شاه لخوا ایران ته دعوت سوو. سید د نوموړي دعوت قبول کړ او د ایران په لور وخوځید، کله چي ایران ته ورسید. نو د ناصرالدین شاه لخوا یې تود هرکلی وسو. په لنډ وخت کي یې د پوهانو، ځوانانو او روحانینو ترمنځ بې ساري نفوذ پیدا کړ. د خلکو لخوا سید سره بې ساري میني د ایران لومړی وزیر ته خوند ور نه کړ او له دغه حالت څخه ناصرالدین شاه خبر کړ، شاه د دې خبرو په اورېدو سره د سید د تبعید امر وکړ او ویې ویل چي سید په ایران کي پرې نږدئ. ددې خبر په اورېدو سره نابغه سید تهران پرېښود او شاه عبدالعظیم ته ولاړ، هلته هم ورته زیات شمېر روحانیون او روښانفکره ځوانان ورتلل، چي په پای کي امر وسو ترڅو سید په زوره له هیواده وباسي، سید په داسي حال کي چي پخپله بستره کي د مریضۍ په حال کي پروت وو له پنځوسو څخه ډېرو وسله والو پرې حمله وکړه او په ډېر بد حال کي یې له ایرانه وباسه(مخزومي، ۲۰۱۳م).

**روسیې ته سفر:**

په ۱۸۸۶م کال سید د له ایران څخه روسیې ته روان سو، کله چي پترسبورګ ته ورسید، د روسیې د لوی واک لرونکی دده احترام او اکرام وکړ. دوه هدفه یې له دې سفر څخه لرل: یو دا چي د انګلیسي استعمار پلانونه له منځه یو سي. دوهم دا چي د اسلامي مناطقو د یوالي لپاره مرسته پیدا کړي او د برطانیا له زولنو څخه یې خلاص کړي. افغان کوښښ کوئ، چي د روسیې او انګلیس ترمنځ د جګړې احساس وپاروي.

د همدې موخي لپاره یې څو واره د رسیې د خارجه وزیر سیاسي مدیر (زینوویف) سره وکتل، خو هغه زړه ښه نه کړ، ځکه چي دوی تازه د عثماني جکړې څخه وزګار سوي وه او د بلي جګړې اراده یې نه لرل.

افغان به زینوویف ته ویل:

" څومره او هر کله چي زه تا هوا ته الوزوم ته لکه پشکه غوندي په ځمکي باندي منګولي ښخوې" (افغاني، ۱۳۹۴ل).

**لندن ته دوهم سفر:**

سید په ۱۸۹۲م کال یو ځل بیا لندن ته ولاړ او شپږمیاشتي یې هلته تېري کړې. په داسي حال کي چي ټوله اراده او د قلم ځواک یې د ناصرالدین شاه حکومت په ړنګولو لپاره کارول او د حکومت د استبداد په وړاندي یې ژوندي مطالب په ضیاءالخافقین مجله کي خپاره کړل. ترڅو خلک د دغه استبدادي حکومت له ظلمونو خلاصون ومومي، دغه وخت ترکیه کي سلطان عبدالحمید واک ترلاسه کړی وو. په لندن کي د ترکیې سفیر په واسطه یې سید ترکیې ته دعوت کړ، چي د سید له لوري یې دعوت قبول سوو (رښتیا، ۱۳۵۵).

**ترکیې ته دوهم سفر:**

سید ته د سلطان لخوا تود هرکلی وسو، سید په استانبول کي پنځه کاله تېر کړل چي سلطان له مهربانیو او قصر د خلکو له بې شمېره دسیسو سره مخ سو، بلاخره دې ته مجبور سو چي د ترکیې له حکومت یې څو ځله د اروپا تګ اجازه وغوښته خو چایې خبره وانه وربده ،سید دلته پاته ژوند په یو داسي زندان کي تېر کړ چي د ژوند تیرولو لپاره مناسب نه وو، سید جمال الدین افغان په ۱۸۹۷ م د مارچ میاشت، د سه شنبې په ورځ ۱۲ بجو او ۱۳ دقیقو د سرطان ناروغۍ له کبله خپلو ټولو ارمانونو سره چي د استعمار څخه د ختیځ د خلکو خلاصون په اړه یې درلودل، د ۵۹ کلنۍ په عمر له دې فاني نړۍ څخه تل لپاره سترګې پټې کړې که څه هم د نوموړي د مرګ په اړه مختلفې څېړنې ترسره سوې ځوک یې مرګ مرموز بولي، ځوک یې د سرطان ناروغي او ځوک یې د زهر په ورکولو او داسي نور (افغاني، ۱۳۹۴ل).

د پورته ذکر سویو سفرونو له تحلیل څخه ښکاري، چي د سید جمال الدین افغان غورځنګ د استبداد، استعمار او خرافاتو پرضد پیل سوی وو. ددې لپاره چي دده غورځنګ بین المللي سي. نو ایران، ترکیې، مصر، فرانسې او نورو هیوادونو ته یې سفرونه کړي او په هغه هیوادونو کښې یې د مجلو او کتابونو په چاپولو او خپرولو لاس پوري کړی دی، چي په دې سره یې زیات پلویان پیدا کړي دي. ده د نړۍ د مسلمانانو د راویښیدو لپاره ډېري تاریخي هڅي کړي دي. علامه سید جمال الدین افغان د افغانستان په تاریخ کي هغه علمي او اسلامي سیاسي څېره ګڼل کیږي، چي د نړۍ زیاتره هیوادونو د نوموړي د فکر، پوهي، ذکاوت او نبوغیت څخه استفاده کړې ده.

سید جمال الدین افغان عالم، ادیب، لیکوال، انقلابي سیاست پوه او زړور خطیب وو.

## پایله

د علامه سید جمال الدین افغان سفرونو ته په کتو په یقین سره ویلای سو، چې د نوموړي سیاسي غورځنګ په ښه نیت د افغانستان او د نړۍ د مسلمانانو د پرمختګ او ترقۍ لپاره پیل سوی وو. د نوموړي د غورځنګ هر غړي د اسلام مقدس دین او خپل هیواد ته د خدمت رښتنی تعهد درلود. استاد عبدالحی حبیبي له محمود طرزي څخه داسي نقل کوي: "علامه سید جمال الدین د عرفان یو کان و، زما د اوو میاشتو استوګنه له علامه سید جمال الدین افغان سره د اویا کلونو سفر سره برابره ده".

سید جمال الدین افغان د افغانستان او اسلامي نړۍ نوموتی عالم، د ټولني پوهوونکی او رغوونکی ګڼل کیږي. افغان په زیاتو هیوادونو ګرځېدلی وو او په ګڼو ژبو یې خبري کولای سوې. دده ژوند له منډو او سرګردانیو ډک وو، زیات سفرونه یې کول، چې ځیني د هغه سفرونو څخه د نوموړي په خوښه او ځیني سفرونه یې د سیاسي مجبوریتونو له مخي وه. افغان مسلمانانو ته د یوالي سپارښتنه کول او د نفاق هغه ناوړه لاسونه چې د ښکیلاکي ځواکونو لخوا اسلامي نړۍ ته را اوړده سوي وه، د زړه په سترګو لیدلي وه او د هغو د بندیدو لپاره یې مبارزه کول.

افغان په ټولو سفرونو کي پر زده کړه سربېره د شاو خوا سیمو د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي حالت ډېره ژوره مطالعه وکړه. نو دا فکر ور سره پیدا سو، چې څرنګه خپل هیواد، ټول اسلامي هیوادونه او نوره نړۍ د انګرېزانو د استعماري بند، اثر او نفوذ څخه خلاصه کړي.

سید جمال الدین افغان د اسلامي امت د بیدارولو لپاره د نړۍ په ډېرو هیوادونو کي هلي ځلي کړي. هر چیري چي دی تللی، هلته یې داسي فکري، اصلاحي او علمي انقلاب راوستئ، چي کلونه - کلونه او پیړۍ - پیړۍ یې اور نه دی مړ سوی او ډېري تیپي تیارې یې په خپلو وړانګو روښانه کړي دي. ددغه سفرونو څخه علامه سید جمال الدین افغان هم زده کړي وکړې او هم یې د فکر یوه برخه د سیمي هیوادونو سیاسي او ټولنیز حالت بوخته وساتل. افغان سید هڅه کول چي د بیدو خلکو په نفسونو کي سیاسي شعور پیداکړي او د بشریت په جامدو وګړو کي فکري او اصلاحي غورځنګ رامنځته کړي.

علامه سید جمال الدین افغان په مصر کي لس کاله ژوند وکړ، منور شاګردان یې وروزل، کتابونه، رسالې او مضمونونه یې ولیکل.

سيد جمال الدين افغان په هندوستان کې پنځه کاله تېر کړل، ترهغو چې استعمارګرانو اړ کړ چې هندوستان پرېږدي.

په فرانسه کې يې درې کلونه تېر کړل. نوموړي د خپلو زياتو سفرونو څخه لاسته راوړني لرلې، خو بيا هم د وخت د استعمارګرو، استبداد خوښوونکو او اسلامي هيوادونو د يووالي او پرمختګ څخه وېره کوونکو اشخاصو پر نوموړي مختلف تورونه ولګول. تر داسي حده چې پر نوموړی د الحاد تور ولګول سو او په هغه هيواد کې د اوسيدو څخه تبعيد کړل سو.

## اخځليکونه

افغاني، سعيد. (۱۳۵۵ل). د شرق نابغه(لومړی چاپ)، کابل، بيهقي کتاب خپرولو موسسه.

افغاني، سعيد. (۱۳۹۴ل ). د شرق نابغه علامه سيدجمال الدين الافغاني(دوهم چاپ)، مصر، د افغانسان سفارت، فرهنګي ځانګه.

جلالي، زاهد. (۱۳۹۳ل). سيد جمال الدين افغاني ستر شخصيت او سپک تورونه(لومړی چاپ)، کابل، دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز.

حبيبي، عبدالحی. ( ۱۳۵۵ل). نسب و زادګان سيد جمال الدين الافغاني. کابل، بيهقي د کتاب خپرولو موسسه.

خوګياڼی، محمد امين. (۱۳۱۸ل). حيات سيدجمال الدين افغاني، کابل، مطبوعه عمومي.

رازقي، شاهد حسين. (۱۳۸۸ل). سيد جمال الدين افغاني، کابل، مستقبل خپرندويه ټولنه.

رښتيا، سيد قاسم. (۱۳۵۵ل). سيدجمال الدين و افغانستان، کابل، بيهقي د کتاب خپرولو دولتي مطبعه.

زيدان، جرجي. (۱۹۲۲م). مشاهير الشرق(دريم چاپ، دويم جلد)، مصر.

صديقي، محمدعثمان. (۱۳۵۵م). سيدجمال الدين افغانی پيشوای انقلاب، کابل، بيهقي د کتاب خپرولو دولتي مطبعه.

صفا، مصطفی.(۱۳۹۵ل). د نړۍ سل مشهوره څېرې(دوهم چاپ)، ننګرهار، مومند کتاب پلورنځی.

طيبي، عبدالحکیم.(۱۳۵۵ل). تلاش های سیاسی سیدجمال الدین افغانی، کابل، اطلاعاتو او کلتور وزارت، بیهقي د کتاب خپرولو موسسه.

عماره، الدکتور محمد. (۱۹۸۴م). جمال الدین الافغاني المفتري علیه، قاهره، دارالشروق.

عماره، الدکتور محمد. (۱۹۸۸م). جمال الدین الافغاني، موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام(دریم چاپ)، قاهره، دارالشروق.

عماره، الدکتور محمد. (۲۰۰۸م). شخصیات لها تاریخ، قاهره، دارالسلام.

غبار، میرغلام محمد. (۱۳۲۳ل). سیدجمال الدین افغان(شماره اول)، کابل، مجله اریان

مخزومي، محمدباشا. (۲۰۱۳م). د افغاني سید جمال الدین خاطرات(دویم چاپ)، کوټه، صدیقي خپرندویه ټولنه.

نړیوال، رازقي. (۱۳۸۵ل). علامه سیدجمال الدین افغان د پوهي او ازادی علمبردار، کابل، بیهقي د کتاب خپرولو موسسه.

نهضف، نظیف الله. (۲۰۱۶م). افغانستان او انقلاب، بلجیم-بروکسل.

Social Science
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# A Review of the Major Journeys of Allama Syed Jamaluddin Afghani

Nomand Assistant Professor Asadullah Samsor[1], Naqeebullah Hamza[2], and Abdulwaris Samadi[3]
[123] Department of Pashto Literature, Faculty of Education, Bost University
Corresponding Email: asadullahtt@gmail.com

## Abstract

Looking at the travels of Allama Syed Jamaluddin Afghan, it can be said with certainty that this political movement was started with good intentions for the progress and development of Afghanistan and the Muslims of the world. Every member of this movement had a commitment to serve the holy religion of Islam and his country.

Professor Abdul Hai Habibi quotes Mahmud Tarzi as follows: Allama Syed Jamaluddin was a source of mysticism, my seven months of residence with Allama Syed Jamaluddin Afghan is equivalent to seventy years of travel.

Syed Jamaluddin Afghan is considered a famous scholar, social educator and builder of Afghanistan and the Islamic world. Afghan had traveled to many countries and could speak many languages. His life was full of wanderings and wanderings, he traveled a lot, some of which were by his own will and some due to political compulsions. Advising Afghan Muslims to unite and seeing with their hearts the evil hands of discord that had been extended to the Islamic world by the forces of division, he fought to stop them.

In addition to studying during all his travels, Afghan deeply studied the political, social and economic conditions of the surrounding areas. So, he thought of how to free his country, all Islamic countries and the rest of the world from the colonial yoke, Influence and influence of the British.

Sayyid Jamaluddin Afghan made efforts in many countries of the world to awaken the Islamic Ummah. Wherever he went, he brought about such an intellectual, reformist and scientific revolution that its fire did not die down for years and centuries and illuminated many dark places with his foresight. Allama Syed Jamaluddin Afghan also learned from these travels and kept a part of his thoughts occupied with the political and social situation of the local countries. The Afghan Syed tried to create political consciousness in the souls of the Bedouin people and to create an intellectual and reform movement in the solid masses of humanity.

Allama Syed Jamaluddin Afghan lived in Egypt for ten years, trained his enlightened students, wrote books, pamphlets and articles. Syed Jamaluddin Afghan spent five years in India, until the colonialists forced him to leave India. He spent three years in France. He had achievements from his many travels, but still the people of the time who loved the tyranny of the colonialists and feared the unity and progress of Islamic countries made various accusations against him, to the extent that he was accused of atheism and was exiled from living in that country.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**


# Leed Social Science Academic Journal


| Volume:1 | Issue: 2 | Year:2025 |
| --- | --- | --- |